




د دنیا څه عجیبه شانته بهیر دی

په پیچوموکې دلاروهرڅوک ګیردی

د شونتیا او نا شونتیاپه ښکوراښکوکې

څوک دا نن او څوک سبا د ځان په ویردی

***********

خپله انسان دی چې منکر دی له خپل توانه ځنې

خپل واکې ګوري لیرې پورته خپل ځانه ځنې

لا د نا جاڼو او اوهامو نه وتلی نه دی

خیال کې هر څه ګڼې ډالۍ له پاس له اسمانه ځنې

************

انسان چې بد شي بد ځناور وي

تل په ناولو چارو یې نظر وي

چیرته چې لاړ شي چیرته چې کینني

خوسا بو ینا که پیټی په سر وي

*********

د خپل زړه درزا ته غوږ شه چې څه وایي

د ژوندون ستومانه لاره درته ښا یي

که څه خپله په سرو وینو کي لمبیږي

بیا هم ټینګ ولا ړ په خپلې ژمني پایي

**********

هر ګهیځ دي وخت په نوي سلا بولي

هم ګلونه هم اغزي دې لاره ګوري

غوراوي کي خپله تاته سوچ پکار دی

ښه یې دا چې د چا پور نه وي درپورې

*************

د سرې په مټ کي څومره که ډیر ځواک وي

چه ترڅنګ یې دوه نور نه وي نو کاواک وي

خپل ځواک هر څوک په ټولنه کي موندی شي

بې ټولنې د انسان څه ژوند او ژواک وي

*************

ښیګنوالو ته ښیګڼه خپل سره زر ده

که رښتیا وایم له سرو نه ډیره بر ده

سره او سپین د لاسو خیره ده پاکیږي

خو ښیګڼه ویسا پانګه د بشر ده

***********

مینه لاړه د وختونو افسانه شوه

د هوس د ژبه ورو ترانه شو ه

نه درخو او نه ادم شوو چیرته پاتې

د مجنون او لیلا تیره زمانه شوه

***********

ای زړګیه ته چې دومره غم سودا خورې

بل څوک نه بلکه خپل ځان به خامخا خورې

نړۍ ډکه سراسر ده له غمونو

ته به چیرته چیرته رسې غم د چا خورې

************

ځان ته زیر شه هر څه ته یې هر څه ته یې

ته پخپله یې که بد یا که ښه یې

جهان ډک دی د هستی له ډیرو ښو

خو ددوی تر منځ په پوهه ته ستا نه یې

*********

کله چې ښکل مې کړې او ښکل دې کړمه

ګنم د خپل ځان سره حل دې کړمه

د تلوسو بهیر چاپیر وي زړه نه

زما خو یې وایم لا خپل دې کړمه

***********

زما پښتو پښتو وطنه بې پښتو دې نه شي

د نا تار ګرو رقیبانو د بنډو دې نه شي

دغه خپلواکه اوچت غرونه دې خپلواکه اوسه

هیڅکله کمه له با ننګه پرګنو دې نه شي

***********

پرون هغسې نن دغسې کوي

میرڅن میر ځن د ی خپلې وسې کوي

تمه له دوی نه د ښیګڼې مه کړه

هر څوک د خپلو ګټو هڅې کوي

*********

ته چې انسان وژنې انسان نه یې څه؟

په کړو او وړو کې جوړ حیوان نه یې څه؟

ستا سړیتوب لا وده کړی نه ده

چې وې ځنګله کې هغه شان نه يې څه؟

*********

لار که څو تنګه تياره ده مه ودريږه

قدم اخله درومه وړاندې مه تمکيږه

د ستا کلک هوډ او ټينګاربه هرڅه سم کړي

د ژوند شرط خوزښت او زيار دی ځه چليږه

***********

ارامښت نه شته په ځانته اوسيدو کي

نه به يې بيامومي په غرونو او رغو کي

ريښتيانی ارامښت هله زړه ته راشي

چې له ميني څوک ځای و نيسي په زړو کې

*************

ته هر څه نه يې جهان کې سرا سر

لتا ښه او لتا لوړ شته لر او بر

ځان چې ګورې او نور نه درځي په سترګو

دغه رنځ د ځانمنني دی اکثر

************

نه وي اوريده کله ليدو غوندې

مه وله غونډاري د وړندو غوندې

و غړ وه سترګې هر څه وګوره

بيا به دې ټول کړه وي د سړو غوندې

***********

خپله غټ شيطان دی خو دی نورو ته شيطان وايي

ځانته ګوته نه نيسي اپلتې په شان شان وايي

سترګې يې وړندې دې عقل وړی درغلۍ ورنه

خپله ناروا کوي بيا بل چا ته قران وايي

***********

زما د سلګو زما د ساګانو غوندې تن کې اوسې

د خوږې ميني له ګلونو ډک وطن کې اوسې

روښانه هیلې لکه ستوري ستا څولی رڼوي

د پیرزوینود لوړهسک په شني لمن کې اوسي

************

سترګې زما دې ښکلا دستا ده

مینه زمونږ د زړو سلا ده

زه او ته دواړه سره راضي یو

نورو ته ولې دیکې سودا ده

*********

عقله له خطا نه مخکې راشه ته

کښینه زما سر کې تل زما شه ته

ډوب شم په نا خوالو چې شي بیل له ما

څنډ راتلو کې مه کوه پخلا شه ته

*********

د واعظ شیطان له نورو نه ډیر غټ وي

له خبرو پرته بل کار کې زیات مټ وي

تل ممبر باندې د نورو ګناه ستایي

خپله پاک هرې خطا څنې چورلټ وي

***********

ستړی ستومان یمه له کاره د ژوند

نا چار روان یمه په لاره د ژوند

روح او تن دواړه ژوبل ژوبل ښکاري

بیا هم جنګیږمه لپاره د ژوند

**********

مه دومره تریخ شه چې ټول و دې رټې

نه هومره خوږ چې هر څوک و دې ګوټې

منځ لاره نیسه د ژوندون په یون کې

ښه ده چې ډیر وګړي ودې ګټې

**********

څومره رخه څومره کرکه ده په زړو کې

يو پوټې ښيګڼه نه شته دى په کړو کې
انساني خوی د لورني لاړ انسان نه
مړ جوهر د سړيتوب شو ډير سړو کې
**********
څومره چې ستا زړه کې غمونه دي ټول ماته راکړه
دا که درانه او غرونه غرونه دي ټول ماته را کړه
د اوښکو څاڅکي ستا ښايسته سترګو کې نشم ليدی
د وينو اوښکو دا رودونه دې ټول ماته را کړه
************
ما دبيلتون د شپو يادونه درته بيا راوړي
د پرهرژلي زړه ناسور ټپونه بيا راوړي
ژبه مي مه تړه لږ پريده هر څه ووايمه
ډک له ګيلو او له مانو حالونه بيا راوړي
***********
زما په زړه زما احساس کې ته يې
په انديښنو فکر او وسواس کې ته يې
هر خوا چې ګورمه هم تا وينمه
ناسته هر لور په کوز او پاس کې ته يې
**********
مينه ده که کرکه ده دوه زبر ځواکونه دي
نا ست د انسان تن کې يواوبل ته يې ګواښونه دي
مينه د ښيګڼي پيرزويني د لورني ځواک
کرکې پورې غوټه د بدی زورواک خويونه دي
**************
موده وشوه د ويشخوني په چوپړ يم
د خپل زړه له غمه دې چارې ته اړيم
بې له ځښونه ددې خوړز غمول ګران دي
د يو پای نه وي په بل باندې ککړ يم
*********

میني ستا له تلوسو نه لیونی شوم

غو ښي یوړلي غمونو وچ لرگی شوم

زه ازاد بنده لوی شوی وم په غرونو

تا په خپلو لومو ونیوم مریي شوم

**********

سپینه سپوږمی شان ځلیده ښکلي خبره نه وه

موسکا په شونډویي نڅیده ښکلي خبره نه وه

شپول تري د وړانگو پلوشو چاپیر وه

لکه غوټی سره غوړیده ښکلي خبره نه وه

***********

مونږ نه هر څه واخله رقیبه خو پښتو مه اخله

د ژوند خپلواکه ولوله مو لدي غرو مه اخله

ستا را کټونه او بمونه لوی طاقت دی منم

مرگ ورنه ښه دی مونږ ته نوم دغړوندومه اخله

*************

د وطن ځمکه سوکړی شوه په اورونو

چي لیري دوستان ډالی تل د بمونو

بیا دا لوړ خپلواکه غرونه دي په چغو

چي يي سوزي تنکی څانگي د ځنگلونو

***********

چي اوښان سره د بار وهي په بډه

دي شوکمار راوړه زمونږ کلي ته کډه

چي جهان يي ټول په نس دننه پروت دی

حیراني ده څنگه ځان کړو تري په ډډه

***********

یو نا تار پای شوی نه وه پسي بل شو

سرخوږی مو په وطن کي یو په سل شو

چا چي زر ځله ځپلي یو وژلی

دعوي دارزمونږ د ژغورزمونږ قاتل شو

**********

د تور اند تورتمي شپه په خپريدو ده

د رڼا د ځرک ماڼی په نړيدو ده

يوتور نيز دی په ځپو او غورځنګونو

د يو قوم د ژوند بيړۍ په ډوبيدو ده

***********

ځيرې ويرې ډيرو پيښو د تن خت کړ

د بنډيانو يې را بار په مونږ منت کړ

نه يې خپل نه د وطن عزت ته پام دی

د پښو لاندې يې د هسکو شملو پت کړ

************

ارمان شهيد شو تورتمونو جنګ کې

ياغي پيلانو د بريدونو جنګ کې

خوار له خپل ځانه لويه تمه کيده

بايلوده سر يې تورو زړو نو جنګ کې

*********

پښتون وطنه له پښتو، نه دې ځار

غيرت غيرت جګو شملو نه دې ځار

کله دې جغ د پردو وړی نه دی

د ازاد ژوند خوږو وږمو نه دې ځار

**********

تور زاړه ښکلاک بيا مونږ ته بده پتيلي ده

توره د هوس يې چې له تيکي را ايستلي ده

غواړي د پلرو د ماتې غچ له پښتنو واخلي

ځکه يې پښتون وطن سترګه خره کړيده

*************

مست پيلان د سترې پانګې په غو غا دي

ناست لندن که په پاريس يا امريکا دي

هره ورځ نوې پلمه او نوی ګواښ دی

خپل لوټمار نظم ټینګښت ته په سودا دي

*************

نن سبا ولسواکی تش یو شعا ر دی

د زورمارو په لاسو نوی افزار دی

د خپلواکو ملتونو دې خدای مل شي

د نړی نه را چاپیر ښکیلګر ښامار دی

***********

بوش اولادین هیڅکله نه دي د ښمنان د یو بل

په شیطاني چارو کې دواړه پلویان د یو بل

بوش یې مخکښ او سر غندوی لادین روستاړی دده

په نړیوال لوټمار نظام کې دي سیلان د یو بل

************

کلونه تیر شول یو بل کال هم تیر شو

عمر که لنډ شو خو مهال هم تیر شو

ښه د ی چې ژوند په سړی تم نه دی تل

که ښه حال تیر شو خو بد هم تیر شو

**********

کله چې سیند ته ګورم ستا سترګې مې یاد ته راځي

چې مخامخ دې شم د سترګو سیند مې یاد ته راځي

ستا د لیمو ددې بې پولې سمندر په غاړه

د هسک دا پورته لوی نا پای منظر مې یاد ته راځي

************

چې زور د غم په ما شي زما زور شي په پیالو

لوزونه او هوډونه رانه هیر شي د توبو

بیا اخلمه جامونه چې دا غم څه نیم کښو کړم

که دا چیرته ګناه وي نو ګناه ده د غمو

***********

دا د غم او درد کوڅه ده غم تري غواړه

د خوښۍ میرمنه مړه ده ژاړه ژاړه

ای په ژوند کې د مسکا پسې لوغړنه

څه اوس ګرځه د غمو پیټی په غاړه

***********

ته رنګین خیالي انځور د چا د خوب یې

یا د ټولو ښکلا ګانو یو څڅوب یې

د ګلونو سمسورتیا درته پسخیږي

ډک له زوړه یو سپین روبی پیغلتوب یې

**********

لاړه ویده شوه د زړه کور کې د جانان سندره

شونډو ته نه راځي خپه شوه د ارمان سندره

احساس سوړ شویدی زیاتي هغه ځلا نه لري

لویو غمو وخوړه مونږ نه د خپل ځان سندره

**********

په بانه د ښځلو ناست یم که محرم ستا د حرم شم

پیر په پیر جامونه اخلم چې جوګه دې د کرم شم

شراب څه د زهروګوټ دی دښمني دعقل هوش ده

زه یې ستا لپاره ښځمه خیر که نورجهان ته ګرم شم

**********

د کاڼی جوړ بتان د میني ارزښت څه پیژني

دوی په دننه زړو کې نغښتی منښت څه پیژني

مینه د خوزنده احساس ده ویښونکي څپه

ساړه بې حسه زړونه دغه خوزښت څه پیژني

***********

ژوند د تلو راتلو سر پوټې سلسله ده

د څو ورځو څه موهومه تلوسه ده

نه پرې زه پوه شوم نه ته او نه پرې نورهم

ژوند عجیبه شان انجره مشوره ده

***********

ځني وايي چې پراخه تنګ نظر کړم

له لښتي نه ځان ورګډ په سمندر کړم

خو چې زيرشوم ټول لښتيو کې لمبيږي

نو بيا زه څنګه پدې ورم باور کړم

**********

د ليوانو زيږون هر کله ليوان وي

د مارانو بچي خامخا ماران وي

له انسان څخه انسان تل را زيږيږي

خود ځنيو خوې په شانې د حيوان وي

*********

د زاړه ميراث وراسته موميا هډونه

پآڅيدلي دي د غچ کوي ګواښونه

د زاړه منطق زړه توره په لاس کې

ټپوي ټولې نړۍ ته خپل ورنو نه

************

چې يې ياد کله د زړه په کور کې کښيني

د احساس تنکی تارونه شور کې کښيني

ټوله شپه مې د خپل ځانه سره جنګ وي

د ارام په ځای مې سوچ په اورکې کښيني

*********

شاعر ميلمه کړئ د ژوندون د شنو بڼونو منځ کې

ښايسته ويشګره ورته کښينوئ ګلونو منځ کې

بيا ترينه و غواړئ د ژوند او د ښکلا ستاينه

چې درته واوروي ځوان شعر الهامونو منځ

*************

بد هغوئ دي چې د نورو په تاوان وي

سوچ او فکر يې په ګټه د خپل ځان وي

ځانه پرته نور يې نه راځي په سترګو

تل د خپلې خيټې غم کې سرګردان وي

*********

د وخت زړه کې د شیبو ترمنځ جګړه ده

د یو تلو د بل راتللو تلوسه ده

د ژوندون ډګر دی تود په دغو هڅو

د فطرت دغسې جوړه اډانه ده

************

د نړۍ نظم ولاړ په ښکو راښکو دي

د زاړه په ځای د نوی د راتلو دی

هر یو نوی ځي زړیږي او پریوځي

ورکې بل ځای ناستی ورو په توکیدو دی

**********

ددې بیخوده لیوني زړه سره څه وکړمه

مست بې پروا اوهواي زړه سره څه وکړمه

بې غیر له میني نه یې غاړه بل ته نه تیتیږي

دې لالهانده او یاغي زړه سره څه وکړمه

**********

عمر تیر شو په غمونو ترارو کې

زړه ډوبیږي او درزیږي اندیښنوکې

مرګي لنډې فاصلې کړې د ژوندخوا ته

کمی رانغی د غم په درنیدو کې

**********

مخکې لدې چې دغه ښار پریدمه

لار کړم بدله د ستا لار پریدمه

ما ته د میني د هیر چل وښایه

چیرته او څنګه دغه چار پریدمه؟

**********

ګیر یو تیاروکې خو کوو لاد رڼا خبرې

لکه رنځورچې ګوري خوب کې د دوا خبرې

وختو نه ځي مونږ لا فرصت ته ناست یو

ډیر ننه تیر شو خو رانغلې د سبا خبرې

***********

که د ښو سره دې ناسته وه نو ښه به یوسي

له بد که یو ځای شوې له بدو پرته څه به یوسي

د بدو خوی ناولی لوښی دی ترې لیرې اوسه

که ور نږدې شوې خامخا ځان توریده به یوسي

***********

څه موده وشوه چې مې سترګې ستا لیدلی نه دي

په ښکلو سترګو دې خواږه راته کتلي نه دي

د بیلتانه میره کې ناست یم د زړه وینې خورمه

د ژوند اوبه دې د سرو شونډو لوروي نه دي

************

شونډې یې سرې پستې پستې دي ځکه

وایې پښتو دومره خوږې دي ځکه

هره خبره یې چې زړه راکاږي

خوله کې وییونه پښتني دي ځکه

*************

بدګنو لوړ که ودرولی دی د کرکې دیوال

د ښیګڼوالو ډیر اوچت دی بیا د مینې ټپال

په زړه کې کرکې څخه کرکه لرل وژني کرکه

د ژوند لپاره انساني مینه کړی زړه کې سنبال

***********

خپل مخ په نورو رنګو مه رنګوه

ژبه شیبه شیبه کې مه بدلوه

څنګه چې یې دغسې ځان وښیه

سوچ د ریا ځانګو کې مه ځنګوه

************

چا چې مدام د اسلام تیګه په ټټر وهله

د نورویې سپکه مګرخپله یې لکه غر وهله

چې وخت یې راغی نه جومات نه یې ممبر پرېښوده

د غنیمت په نوم یې ځانته لر او بر وهله

***********

زه یو ملنګ ومه ملنګ پاتې شوم

وطنه ستا په مینه رنګ پاتې شوم

چیرته چې ولاړم د دمې لپاره

بیل چې لټا وم په زړه تنګ پاتې شوم

*********

د بې خونده ژوند قصه خوشې ویریاشوه

د شیبې ګړۍ د مرګ یو سودا شوه

د غمونو د ګاللو هم څه حد وي

له ډیرز غمه مې د زړه خونه تالا شوه

**********

اوس خپل غمونه ګرانې ما نه سپموې ته ولې

د غم په ویر کې مې لا دومره کړوې ته ولې

ما ستاد وصل څه خواږه خواږه خوبونه کتل

خوب لاړو غم شو بیا نو غم دې بیلوې ته ولې

**********

مونږ یو دوخت د پرمختلونکې ستر بهیر لاروي

ځو او ځو وړاندې په ټاکلې لار ستومانه ستړي

ورک یو دخپل ذهن پیچومو کې لا نه پوهیږو

چې حقیقت ددغه یون به اخر چیرته رسي

************

سترګې کړه بیرته د رقیب بل کړی اور وګوره

سوزي لمبو کې اوس د خپلې ناستې کور وګوره

دا د زیار کښ اولس د زیار یو ه هوسا سیمه وه

دغو ارامو ګلکڅو کې دومره شور وګوره

**************

د پنځ خپلواک ازاد اوډون دی پخپل واک چلیږي

د چا د خوښې او رضا سوچ پکې نه ځايږي

خته پخپله منګی خپله او کولال خپله دی

خپله ورانيږي که يو لورته بل لور بيا جوړيږي

***********

زه يم په خپله بيا هم خپله نه يم

خبر له خپل ځان نه هيڅکله نه يم

په ټوکوټوکو وخت هرڅه واخستل

څه وکړم وخت سره په تله نه يم

***********

نړيدلې مينې وير کې ورځ روانه په سلګو ده

د بيلتون تورتمې شپول ته رڼا ځي په ډوبيدو ده

خاورې شووځوانوهيلوتريخ احساس زړه کې خوزيږي

سيلۍ وړې وچه پاڼه د ژوندون په کښيدو ده

***********

نه غواړم اوښکه شم د چا له سترګو و څڅيږم

نه لکه شمعه ځانته ويلې شمه و ژړيږم

غواړم مسکا غوندې په سرو شونډو کې پاتې شمه

غواړم باړخو کې د هيلو په شانې و غوړيږم

************

دې د شخړو او کړکيچ نه ډک دوران کې

رښتيانی ښيګڼه چيرته شته جهان کې

د ښيګڼې پيل له خپله ځانه بويه

د بدۍ ځاله چې ړنګه کړو په ځان کې

***********

ګړيال د ستنو شاته وړل زمان څه شاته نه وړي

وچو خزلو بند تړل طوفان څه شاته نه وړي

دا پرمختګ د ټول بشر د ګډو هڅو لاسوند

د يو څو تنو په شاتګ انسان څه شاته نه وړي

*************

مات کړه دا تندی زما چې څه پکې لیکلی دي

ښکاري چې چپه دې ګراني دا کرښې لوستلي دي

ته چې په ستنه ځې بله څه ګناه مې کړیده

کوم قاضي وګړي د تندي په لیک نیولي دي

************

بیشکه مور ده ارزښتناکه هستي

له ټولو ستره مینه ناکه هستي

چې دانسان د ژوند پیلښت ترې کیږي

تل د لمانځني ده دا پاکه هستي

**********

دا څنګه دنیا ده څنګه دود څنګه دستور دده

نشته هیڅ خوښي پکې تل تود د غم تنور دده

ته ترې خوشحالي غواړه خو دا پیرزو دغم کوي

هرڅوک بې اسرې دی هرسړی ښکاري مجبوردده

************

زور د بیلتانه دې دومره زیات شولو

زما غریب زړګوټی پکې مات شولو

ته دې د جفا په زور پوهیږې نه

و پوښته له ما چې ژوند میرات شولو

*********

ستومانه ستړی ناست یمه د ژوند شاړو میرو کې

لمن د اندیښنو مې ده شلیدلې یم سلګو کې

د ترمې ترمې ګل غوندې خیالات دې سیلی وړي

څپې د منګنو رآته راځي په شنو پسرلو کې

*************

بې وطنه پردیسی یم زما برخه بیوسي ده

چا ته څه ووایم څه دي؟ مجبوري ده مجبوري ده

د ګلونو په ګلبڼ کې د ښکلا ښایست وطن کې

مانه ورکه په خپل تن کې هوسای ده هوسای ده

***********

شونډی کړه بیرته په مسکا شه یوځل

د زړه تیاره کور کې بریښنا شه یو ځل

د خواشینی کډه پرې بار کړه چې ځي

جام شه مینا شه او صهبا شه یو ځل

**********

د سبا سوچ کې ډیوې ټوله شپه روښانې ساتو

اوښکې د سترګو د ککو نه تل روانې ساتو

چینه د ژوند ورو ورو وچیږي د ناخوالومنځ کې

لا پرهرژلي زړه د ننه هیلې ځوانې ساتو

***********

زمونږ د شپو په تندي لا رڼا راغلې نه ده

د لمر مسکا د هسک په مورګو غوړیدلې نه ده

د مایوسۍ خپسکه ناسته ده د ژوند په مرۍ

لا د نادودو مړه تبګۍ له وره وتلې نه ده

*************

ای د شعر رنګین خیاله څنګه والوتې له سر نه

ستا عطرینې ځپې نه راځي د هسک له شنې ورشونه

د ارمان تلوسه ورو، ورو ځي سړیږي د زړه کور کې

فرښته د الهام تښتې د غربت له سړو شپو نه

**************

د غربت شاړې لمن کې بې له غمه وایه څه دي

د ژړاندو لیمو ډنډ کې بې نمه وایه څه دي

د وطن بوۍ چې ترې نه ځي هغه ګل ګلبڼ پردي دي

د پردو په چم ګاونډ کې بې له زغمه وایه څه دي

**********

خیال کې هم ستا له خیاله بیل نه یمه

په دنیای لومو کې ښکیل نه یمه

هیواده ستا میني ته سر ټیټوم

د بل چا زورزياتي ته ايل نه يمه

*********

د وخت ناخوالو ځني ستړی وطن

تل د پردو په اور کي سوی وطن

د خپلواک ژوند مينه يې ګناه د خلکو

د هر بنيلاک د سترګو خلی وطن

***********

ها زوړ غليم وطن ته بيا په نوی رنګ راغلی

خپل نوی ځواک نوی لښکرسره په جنګ راغلی

د شوکماری اشتيا يې ډيره له په خوا تيزه ده

د ستر اکبر ايوب نه مات ټپي پرنګ راغلی

***********

ارمان ټپي شو د زړه په کور کي

سوزي ټول تن د نا هيلی په اور کي

زه به له چا چا نه ګيله کومه

وخت يم نيولی په خپل سپين اوتور کي

**********

کلونه وشول چي تورتم دی پر مونږ

نه شته تيري ژغورظلم اوستم دی پر مونږ

ګير هيخ بي هيڅه په ناخوالو کي يو

له هر خوا نيز د وينو سم دی پرمونږ

*********

له خپل ټاټوبي ليري پاتي چوپ او غلی شاعر

د ليرد سري سيلۍ وهلی ځوکليدلی شاعر

پرهر پرهر ناري سوري مي نښتي ستونی کي دي

د وخت ځواکمن جبر مرۍ نه رانيولی شاعر

***********

د شپيلی په شان په زړه سوری سوری يم

د بيلتون له غربوه ډک زګيروی زګيروی يم

گرم مې مه بولئ که چغې وهم ژاړم

د اشنا له غمه ډیر په زړه نری یم

**********

پرون جهاد وو نن جهاد په انګ فتوا ورکوي

عجیب ملا دی کله هغه کله دا ورکوي

انګریزي ډوول تال سره ګوره په مزه تاویږي

پونډ او ډالر په شوق کې ږیرې ته جلا ورکوي

***********

دې غم یواځې زه لیدلی یمه

کلک له مرګ نه یې نیولی یمه

خوله په ګیلې هم پرانستلی نشم

د جانان غم دی ورته غلی یمه

*********

سترګې ارمان پټې کړې په وینه باندې خوب ګوري

کله د ځلما شیبې کله ځلمیتوب ګوري

اوړي او را اوړي د مهال سره نا رامه دی

سترګې پټوي چې کله خواته سپین ږرتوب ګوري

***********

چې ولاړ یې د پریوتو لاس نیوی کړه

په لورنه هر پردی ځانته نږدې کړه

د ښیګنې او بخښنې زیات طاقت وي

ځان سنبال په دغې زغرې او وسلې کړه

**********

خیال دې هم والوته له سر نه لاره یې بیله کړله

تښتي ځي لیرې فاصله یې خورا ډیره کړله

زمونږ ځولۍ ډکه له غم او اندیښنو څخه ده

د ښو شیبو یارانو ژمنه خپله هیره کړله

************

شرابي نه یم خو خراب دې کړمه

مست لیونی بې له شراب دې کړمه

ته جوړې شونډو کې لمبې ګرځوې

خولګی دې راکړله کباب دې کړمه

**********

کوم سهر سبا چې ستا په مخ را پاڅم

تر مابښامه مې په مخه کې رڼا وی

ژوندانه په چال چلند کې اسانې وې

هم په شونډو مې خوره خوږه مسکا وې

************

ځې ځوانې هیلې پنا کیږې د خوبونو تر شا

داسې چې لمرکاندې ځان غلی توروغرونو ترشا

ترخې ناخوالې د زړګی دننه څړیکې وهې

پټه د ژوند هره سلګی ده پرهرونو تر شا

***********

له شنې ورشو نه

غواړم مسکا غوندې په سروشونډوتل پاتې شمه

درومې په سلګو ده

*********